د افغانستان بانک

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز

2022

# کلنی رپوټ

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز

د ۲۰۲۲ زیږدیز کال کلنی رپوټ



## زمونږ په اړه

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز یو عملیاتي خپلواکه اداره ده چې د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون له حکمونو سره سم د ملي مالي استخباراتو د واحد په توګه پرانېستل شوې دی.

د دې مرکز د جوړېدو موخه د قانون پلي کوونکو ادارو، تنظیم کوونکو ادارو، د څارنوالۍ اداري او نړیوالو همکارانو په همکارۍ د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ له تمویل او نورو اصلي جرمونو څخه د افغانستان د مالي سیستم خوندي ساتنه ده.

په دې مرکز کې مونږ هڅه کوو چې د شکمنو معاملو رپوټونه او نور مالي مالومات راټول، تحلیل او د قانوني پلټنې په موخه د قانون پلي کوونکو مراجعو او نورو اړوندو عدلي او قضایي ادارو ته خپاره کړو.

**لید لوری**

د نړیوالو غوره لارو چارو په رعایتولو سره په هیواد کې د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل په وړاندې د مبارزې په مخکښ مرکز بدلیدل.

**ماموریت**

دقانون پلي کوونکو، نظارتي ادارو، څارنوالۍ او نړیوالو مماثلو ادارو په مرسته د پیسو وینځلو، ترهګرۍ د تمویل او نورو اصلي جرمونو څخه د افغانستان د مالي نظام ساتل.

# د مطالبو لړلیک


د ۲۰۲۲ زیږدیز کال عمده ټکي ........ ۱
ریپوټ ورکوونکې اداري ........ ۱
د شکمنو معاملاتو د ریپوټونو ترلاسه کول ........ ۲
له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ریپوټونو ترلاسه کول ........ ۳
نغدې پیسې او بې نومه معاملې ور سندونه ........ ۳
غیر بانکی مالی سکټورونه ........ ٤
په افغانستان کې د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو کچه ........ ٤
د پیسو لیږد او ریپوټ ورکول ........ ٤
د پیسو تبادله او ریپوټ ورکول ........ ٤
د افغانستان بانک له خوا د امریکایي ډالرو لیلام ........ ٥
د مالوماتو راټولولو سرچینې... ........ ٦
په خپل واک خپرې شوې قضیې ........ ۷
ملي همکاري ........ ۸
د غوښتنلیک په بنسټ د مالوماتو خپرول ........ ۸
نړیواله همکاري ........ ۹
پلي کېدونکې اقدامات ........ ۹
څارنیزو ادارو ته د خبرتیاوو لیږل ........ ۱۰
کنګلول ........ ۱۰
د ملي خطرونو ارزونه ........ ۱۰
د همغږۍ عالي کمیسیون ........ ۱۰
د همغږۍ عالي کمیسیون کاري کمیټه ........ ۱۱
د ظرفیت لوړونې پروګرامونه ........ ۱۱

## د دې مرکز د لوی آمر پیغام

خوښ یم چې د افغانستان مالی استخباراتو واحد د ۲۰۲۲ زیږدیز کال کلنی رپوټ وړاندی کوم. که څه هم مونږ د مالی جرمونو د له منځه وړلو لپاره د خپلې قانوني اداني لا پیاوړتیا ته اړتیا لرو.

غواړم د فنټراکا له ټولو کارکوونکو څخه د دوی ژمنې له درکه چې ډاډ ورکوي تر څو د دې آمریت چارې به له ځنډ پرته پرمخ بیایی، مننه وکړم. د هېواد له ننګوونکو حالاتو سره سره فنټراکا، د چارواکو د ژمنتیا او غښتلې ارادې له امله د پام وړ لاسته راوړنې د تېر کال په اړدو کې ممکنه وې او زه د فنتراکا د پیسو وینځلو او د ترهګری د تمویل او د اړوندو جرمونو د پیژندنې او مخنیوي پر دوام ویاړم. مونږ همدا راز د افغانستان بانک، د بانکونو څارنې آمریت، د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې آمریت، مالیې وزارت، د ګمرکونو او عوایدو ریاستونو، د استخباراتو عمومي ریاست اړوند ریاستونه، د کورنیو چارو وزارت، د افغانستان د کوچنیو پورونو ټولنې او د افغانستان د بانکونو د ټولنې له همکارانو څخه د زړه له تله مننه او قدرداني کوو چې په خپلو دوامدارو همکاریو سره یې زمونږ د ماموریت ملاتړ کړی. همدا ډول باید له هغو واک لرونکو او رپوټ ورکوونکو ادارو څخه مننه وکړم چې له فنټراکا سره په ملې او نړیواله کچه همکاري کوي او څوک چې زمونږ د عملیاتو د یقیني کولو لپاره مرسته کوي، زمونږ لپاره ډېر ګټور او ارزښت لرونکي دي.

د اوسنیو حالاتو سربیره، د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ پر وړاندې ملاتړ به د ۲۰۲۳ کال په اوږدو کې زمونږ لپاره لومړیتوب ولري، په دې ډول کولای شو چې له یو خوندي او ثبات لرونکي مالي، ټولنیز او اقتصادي چاپېریال او د مالی سیستم له بشپړتیا سره مرسته وکړو.

فنټراکا په داخلی او نړیواله کچه د ادارو ترمنځ د همکاریو په پیاوړتیا باندې تمرکز کوي. فنټراکا د سالمې څارنې د یو رژیم په عملي کولو سره د رپوټ ورکوونکو ادارو لخوا د قانون رعایتولو د کچې لوړولو لپاره بېلابېل اقدامات ترسره کړي دي.

فنټراکا د تکنالوژۍ له لارې د نوو لارو چارو لټولو ته دوام ورکوي، ترڅو د پیسو وینځلو، ترهګري سره مبارزې، ګواښونو، ډول پیژندنې (ټیپولوژی) او د سرې نښې لرونکي مالي جرمونه چې مالي نظام اغېزمنوي په تړاو د قانون پلي کوونکو ادارو او نورو واک لروونکو ادارو ته پر وخت اوکیفیت لرونکي رپوټونه وړاندې کړي.

فنټراکا د هغو بریالیتوبونو او لاسته راوړنو د بهیر په دوام کې چې په ۲۰۲۲ کال کې یې ترلاسه کړي دي په ۲۰۲۳ کال کې هم هڅه کوي څو له تېر کال څخه ښه وځلېږي. مونږ په افغانستان او نړیواله کچه د مالي سکټور د ساتنې او ملاتړ لپاره خپل ماموریت په بشپړه توګه درک کوو. مونږ لیواله او انګېزه لرو چې د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او د اصلي جرمونو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې خپل رول ولوبوو. مونږ هڅه کوو چې له نورو داخلي او نړیوالو همکارانو سره یو ځای له جرمي عوایدو څخه قانوني عواید جلا کړو.

په پای کې، غواړم د فنټراکا له کارکوونکو او له ټولو هغو همکارو ادارو چې د ۲۰۲۲ کال د بریالیتوبونو په ترلاسه کولو کې یې له مونږه مرسته کړې، د زړه له تله مننه وکړم. مونږ په لېوالتیا سره په ۲۰۲۳ کال کې ستاسو د ژمنتیا او همکارۍ دوام ته سترګې په لار یو.

## د ۲۰۲۲ زیږدیز کال عمده ټکي

**۲۰۸,۰۰۰**
له بانکي سکتور څخه له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۳۰۹,۰۰۰**
د غیر بانکي مالي مؤسسو له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۵۱۷,۰۰۰**
له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۴۸.۳%**
د ۲۰۲۱ کال په پرتله کموالی

**۱**
له غیر بانکي مؤسسو څخه د شکمنو معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۵۸۵**
له بانکي مؤسسو څخه د شکمنو معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۵۸۶**
د شکمنو معاملو ترلاسه شوي رپوټونو


**۲۱.۱۴%**
د ۲۰۲۱ کال په پرتله زیاتوالی

**۱۸**
لغوه شوي جوازونه

**۱۹**
کنګل شوي بانکي حسابونه

**۱۹**
کورني ترلاسه شوي غوښتنې

## رپوټ ورکوونکي اداري





## د شکمنو معاملو د رپوټونو ترلاسه کول


د رپوټ ورکوونکو ادارو بنسټيز مسؤليت د هغو شکمنو معاملو د رپوټونو ثبتول دي چې د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل، له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو او نورو اصلي جرمونو د ښکیلتیا د شک لپاره منطقي دلیل شتون ولري. د هېواد د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون ټولې رپوټ ورکوونکې ادارې مکلفوي څو دا اړین شرایط رعایت کړي.

د شکمنو معاملو رپوټونه باید ژر تر ژره د دريو ورځو په جریان کې د شک رامینځته کیدو په صورت کې ثبت شي. هر ډول اضافي مالومات باید پرته له ځنډه چې ممکن د تحلیلي یا نورو قانوني موخو د تایید او اعتبار لپاره اړین وي د رپوټ ورکوونکو ادارو لخوا چمتو شي.
د شکمنو معاملو رپوټونو د محرمیت ساتلو لپار د مالي استخباراتو د واحد او د رپوټ ورکوونکو ادارو ترمنځ تبادله شوي ټول سندونه په بشپړه توګه محرم دي او باید محرم پاتې شي او د شکمنو معاملو څخه د داډ ترلاسه کولو لپاره، د مدیره پلاوي په ګډون رپوټ ورکوونکې ادارې او د دوی کارکوونکې باید له پیرودونکو او نورو اشخاصو سره د محتویاتو او نورو مالوماتو له افشاء کولو څخه ډډه وکړي.

دې مرکز په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې په ټولیزه توګه د شکمنو معاملو ۵۸۶ رپوټونه ترلاسه کړي دي چې د ۲۰۲۱ زیږدیز کال په پرتله ۲۱ سلنه کموالی ښکاره کوي.




## له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو رپوټونو ترلاسه کول


د پیسو وینځلو او له ترهګرۍ سره د مبارزې قانوني چوکاټ، له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو رپوټونو لپاره قانوني بنسټ جوړوي. د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوي عوایدو د مخنیوي قانون ټولې رپوټ ورکوونکې ادارې اړې کړې دي څو د هرې له حد څخه د زیاتو نغدي معاملې چې حد یې په اړونده مقرره کې ټاکل شوی دی، په اړه یې د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز ته رپوټ ورکړي.

د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مخه نیونکو اقداماتو او مسئولیتونو د مقررې په اساس ټول تجارتي بانکونه اړ دي چې د ۱,۰۰۰,۰۰۰ (یو میلیون) افغانۍ یا یې معادل په نورو اسعارو د جمع کولو، ویستلو یا لیږد په اړه فنټراکا ته رپوټ ورکړي.

د غیر بانکي مالي مؤسسو لپاره د رپوټ ورکولو حدود په لاندې ډول ډلبندي شوي دي:

| رپوټ ورکوونکې ادارې | له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو رپوټونو حدود |
|---|---|
| د صرافیو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکې شرکتونه | ۵۰۰,۰۰۰ |
| د کوچنیو پورونو مؤسسې | ۲۰۰,۰۰۰ |
| د برېښنايي پیسو مؤسسې | ۵۰,۰۰۰ |




## نغدې پیسې او بې نومه د معاملې وړ سندونه

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عواید د مخنیوي قانون او په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو، اسعارو، او بې نومه د معاملې وړ سندونو د لیږد د کنټرول او رپوټ ورکونې مقرره، د هېواد په هوايي ډګرونو او ځمکنیو سرحدونو کې د نغدو پیسو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د انتقالاتو کنټرول تنظیمیوي.

د ۲۰۲۲ زېږدیز کال په اوږدو کې د چارواکو لخوا د انتقالاتو د حد د بدلون پر بنسټ، دې مرکز د ګمرکونو له اسیکوډا سیستم څخه د هیواد له نړیوالو هوايي ډګرونو او ځمکنیو سرحدونو له لارې د نغدو پیسو او بې نومه معاملې وړ سندونو هیڅ رپوټ نه دی ترلاسه کړی.

## غير بانکي مالي سکټورونه

### په افغانستان کې د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو کچه

د افغانستان بانک د ۲۰۲۲ زېږديز کال په اوږدو کې د مالي نظام د ښه والي لپاره د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د جوازونو د شرکتي کولو طرحه پلي کړې. دا طرحه تر اوسه پورې په اغېزناکه توګه پلي شوې او له اړوندو قوانينو او مقرراتو څخه په سمه توګه پيروي شوې ده.

د نويو اړتياوو په پام کې نيولو سره، دوی اړ دي چې د پولي خدمتونو وړاندي کوونکو شرکتونو نوي شرکتي جوازونه ترلاسه کړي چې يو منظم جوړښت لکه د شريکانو عمومي مجمع، د نظار پلاوی، د مديريت ټيم او د تنفيذي اقدماتو د لا ښه والي او پياوړتيا لپاره د قوانينو د پيروی مدير ولري. سربېره پر دې دوی اړ دي چې يو بشپړ سيستم، مناسبې پاليسيګانې، کړنلارې او مکانيزمونه ولري.


د يادولو وړ ده چې د ۲۰۲۲ زېږديز کال تر پايه پورې د صرافيو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ۷۵۳ شرکتونه) ثبت شوي او د فعاليت جوازونه يې د افغانستان بانک څخه ترلاسه کړي او دا لړۍ دوام لري.

### د پيسو لېږد او رپوټ ورکول

د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان چې اوس مهال د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو شرکتونو په نوم پېژندل کېږي، اړ دي چې د پيسو وينځلو او له جرمنو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي قانون د ۱۷ مادې او د صرافانو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظيم مقررې د ۵۲ مادې پر بنسټ له حد څخه د زياتو نغدي معاملو رپوټونه د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز ته وړاندې کړي. د يادې شوې مقررې پر بنسټ، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان له ۵۰۰,۰۰۰ (پنځه سوه زره) افغانيو د زيات مبلغ يا يې معادل په نورو اسعارو د تبادلې او لېږل شوو معاملو په تړاو د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز ته رپوټ ورکړي.

### د پيسو تبادله او رپوټ ورکول

د پيسو وينځلو او له جرمنو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي قانون او د صرافانو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظيم مقررې پر بنسټ، ټول شرکتي جوازونو لرونکي اړ دي څو د خپلو پېرېدونکو (مشتريانو) له حد څخه د زياتو نغدي معاملو رپوټونه د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز ته وړاندې کړي. د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو شرکتونو لپاره له حد څخه د زياتو نغدي معاملو رپوټونو د ورکونې کچه ۵۰۰,۰۰۰ افغانۍ يا يې معادل په نورو اسعارو ده. د ۲۰۲۲ زېږديز کال په اوږدو کې، په ټوليزه توګه له حد څخه د زياتو نغدي معاملو ۸۴,۲۰۰ رپوټونه د پورته يادو شوو شرکتونو لخوا د (FX-Portal) پورټل له لارې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز ته رارسيدلي دي.




## د افغانستان بانک له خوا د امریکایي ډالرو لیلام

د پیسو وینځلو او له جرمنو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د حکمونو پر بنسټ، صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان، فنټراکا ته رپوټ ورکوونکې مراجع دي. دا مراجع اړې دي څو د افغانستان بانک لخوا د امریکایي ډالرو د لیلام اړوندې ټولې معاملې د (FX Portal) له لارې فنټراکا ته ولېږدوي. د افغانستان بانک لخوا د امریکایي ډالرو د لیلام د معاملو د رپوټ ورکولو لپاره کوم حد شتون نه لري. د امریکایي ډالرو د بانکنوټونو د حساسیت او ارزښت او د افغانیو په ارزښت باندې د امریکایي ډالرو د لیلام د اغیزو په پام کې نیولو سره ټول هغه معاملات چې د افغانستان بانک د لیلام په پروسه کې ترسره کیږي، باید د ایف ایکس پورټل له لارې فنټراکا ته رپوټ ورکړل شي. د یادونې وړ ده، دې مرکز د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د امریکایي ډالرو د لیلام ۶,۴۶۵ رپوټونه د اف ایکس پورټل له لارې ترلاسه کړي دي.

د فنټراکا د غیر بانکي مالي مؤسسو برخه د بیمې په شرکتونو، د برېښنایي پیسو مؤسسو او د کوچنیو پورونو مؤسسو کې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ سره د مبارزې په وړاندې د قانوني مکلفیتونو د پلي کېدو مسئولیت لري. د پورته یادو شوو ادارو د رپوټونو شمېر په لاندې جدول کې وړاندې کېږي:

| د برېښنايي پیسو د مؤسسو وروستي مالومات | | د کوچنیو پورونو ورکوونکو مؤسسو وروستي مالومات | |
|---|---|---|---|
| د شکمنو معاملو رپوټونه | له حد څخه زیاتو نغدي معاملو رپوټ | د شکمنو معاملو رپوټونه | له حد څخه زیاتو نغدي معاملو رپوټ |
| ۰ | ۱۹۵,۰۶۸ | ۰ | ۱۵۹ |

## د مالوماتو راټولو سرچینې



## په خپل واک خپرې شوې قضیې

د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې، دې مرکز د ۱۱۶ قضیو اړوند ۱۴۳ د شکمنو معاملو رپوټونه تحلیل کړي دي چې له دې ډلې یې ۴۳ قضیې خپرې شوې دي. همدا ډول د یادو قضیو له ډلې ۲۹ قضیې یې مخه نیوونکې او ۸۷ قضیې یې انفعالي قضیې دي. په دې قضیو کې د نغدو پیسو د قاچاق، فساد، بډې، د نشه یي توکو قاچاق، درغلۍ، خیالي پولیس، د انسان قاچاق، مالیاتي تیښته، د برېښنايي درغلۍ او نور د اصلي جرمونو د خطرونو نښې(Red Flags) شامل دی.

لاندې جدول د ۲۰۲۲ کال په اوږدو کې د فنټراکا لخوا د خپرو شوو قضیو ډلبندي ښکاره کوي:

| اداري | د قضیو شمېر | شکمن رپوټونه | موارد |
|---|---|---|---|
| د کورنیو چارو وزارت | ۳۹ | ۷۴ | ۱۷۳ |
| د مالیې قدرمن وزارت | ۳ | ۳ | ۲۰ |
| د استخباراتو عمومي ریاست | ۲ | ۰ | ۴ |
| د افغانستان بانک | ۱ | ۰ | ۳ |
| د احصایې او مالوماتو ملي اداره | ۱ | ۰ | ۱ |

د خطر د نښو (Red Flags) پر بنسټ د خپرو شوو قضیو ډلبندي

| شمېره | د خطر نښې/ اصلي جرمونه | د قضیو شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | د نغدو پیسو قاچاق | ۲ |
| ۲ | فساد او بډې اخیستنې | ۸ |
| ۳ | د نشه یي موادو قاچاق | ۳ |
| ۴ | جعل | ۶ |
| ۵ | درغلي | ۱۴ |
| ۶ | خیالي پولیس | ۱ |
| ۷ | انساني قاچاق | ۳ |
| ۸ | د پیسو وینځل | ۳۱ |
| ۹ | مالیاتي تیښته | ۳۲ |
| ۱۰ | برېښنايي درغلي | ۳ |
| ۱۱ | نور اصلي جرمونه | ۱۳ |

د ۲۰۲۲ زیږدیز کال د شکمنو معاملو رپوټونه د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د شکمنو معاملو د رپوټونو په پرتله ۷۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې په لاندې جدول کې وړاندې شوې دي:

| د شکمنو معاملو رپوټونه | ۲۰۲۰ | ۲۰۲۱ | ۲۰۲۲ | بدلون (۲۰۲۱-۲۰۲۲) |
|---|---|---|---|---|
| د قضیو شمېر | ۵۷ | ۵۱ | ۱۱۶ | ۱۲۷٪+ |
| د شکمنو معاملو تر لاسه شوي رپوټونه | ۸۱۰ | ۷۴۳ | ۵۸۶ | ۲۱٪- |
| د شکمنو معاملو شنل شوي رپوټونه | ۴۹ | ۵۶ | ۱۴۳ | ۱۵۵٪+ |
| په خپل واک لېږل شوې قضیې | ۳۴ | ۳۴ | ۴۶ | ۳۵٪+ |

## ملي همکاري

د پیسو وینځلو او له جرمنو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوی قانون او د لاسلیک شوي هوکړه لیکونو پر بنسټ فنټراکا له اړونده ادارو سره د مالي استخباراتو مالومات تبادله کوي. د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې، فنټراکا د قانون له پلي کوونکو ادارو څخه د مالي استخباراتو د مالوماتو ۱۹غوښتنلیکونه ترلاسه کړي دي چې ۲۶ مواردو ته یې ځوابونه وړاندې شوي دي.

**ترلاسه شوي غوښتنلیکونه په لاندې جدول کې وړاندې کېږي:**

| شمېره | اداري | د غوښتنلیکونو ټولیزه شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | د استخباراتو عمومي ریاست | ۸ |
| ۲ | د کورنیو چارو وزارت | ۱۱ |

**د غوښتنې پر بنسټ د مالوماتو خپرول**

| اصلي جرمونه | کال | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ | ۲۰۲۱ | ۲۰۲۲ |
| د پیسو وینځل | ۸ | ۱۰ | ۷ | ۸ | ۶ |
| د ترهګرو تمویل | ۴۶ | ۵۳ | ۷۸ | ۸۱ | ۱ |
| د شتمنیو ثبتول | ۱۴ | ۳۵ | ۳۷ | ۴۰ | - |
| فساد او بډې | ۲۷ | ۲۴ | ۸۵ | ۱۳۰ | ۲ |
| د نشه یي توکو قاچاق | ۹۹ | ۶۱ | ۴۸ | ۳۱ | - |
| مالیاتي جرمونه | ۲۵ | ۵ | ۲ | - | - |
| درغلي | ۲ | ۲ | ۲ | - | ۴ |
| تښتونه او یرغمل نیول | ۴ | ۶ | ۱ | ۱ | ۱ |
| سازمان شوی جرمونه | ۱ | - | - | - | - |
| غصب | - | ۱ | - | - | - |
| جعل | ۱ | ۷ | ۵ | ۴ | ۱ |
| غلاوې | - | ۲ | - | ۲ | ۱ |
| بریښنایي درغلی | - | ۴ | ۱ | - | - |
| وژنې او ځورونې | - | - | ۲ | - | - |
| انساني قاچاق | - | - | ۵ | - | - |
| قاچاق | - | - | ۲ | - | - |
| نور | ۲۴ | ۷۸ | ۳۹ | ۵۸ | ۳ |
| **تولټال** | **۲۵۱** | **۲۸۸** | **۳۱۴** | **۳۵۵** | **۱۹** |

## نړیواله همکاري

فنټراکا له ۲۰۱۰ زیږدیز کال راپدېخوا د مالي استخباراتو واحد (اګمونټ) ډلې غړی وو او د دې ډلې د ویب پاڼې له لارې یې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې په نړیواله کچه همکاري کړې ده.

د ۲۰۲۱ زیږدیز کال له اګست میاشتې راهیسې، یاد سازمان خپل خوندي ویب ته د فنټراکا لاسرسي ځنډولی ده. فنټراکا د ۲۰۲۲ زیږدیز کال د مارچ په ۶ نېټه د اګمونټ ګروپ ته د یو رسمي لیک په استولو سره له دې ډلې د بیا اړیکو جوړولو غوښتنه کړې او په لیک کې ټینګار شوی دی چې د افغانسان د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د رژیم قانوني، ځارنیزه او د پالیسۍ اړانه پر خپل ځای دی او په هغه کې بدلون نه دی راغلی او همدا ډول فنټراکا د اګمونټ ډلې د غړیتوب ټول معیارونه چې د یاد سازمان په منشور کې ذکر شوي دي بشپړوي.

ورپسې، د ۲۰۲۲ زیږدیز کال د جولای په میاشت کې، یاد سازمان د فنټراکا غړیتوب په مشروط ډول لغوه کړ. له همدې امله، د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو که د فنټراکا او د هغه د سیالو ادارو (FIUs) ترمنځ هیڅ ډول مالوماتي غوښتنلیکونه نه دي تبادله شوي.

د فنټراکا موخه له نړیوالو همکارانو سره د بیا اړیکو جوړولو لپاره د هڅو چټکتیا ده.

## پلي کېدونکي اقدمات

د پیسو وینځلو او له جرمنو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون او اړونده مقرراتو پر بنسټ، فنټراکا کولای شي د قانون د نه رعایتولو په صورت کې د بانکونو، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو، صرافانو او نورو مالي مؤسسو پر وړاندې تنفیذي اقدامات ترسره کړي. تنفیذي اقدامات؛ د اخطارېې صادرول، د جوازونو ځنډول یا لغوه کول او د رپوټ ورکوونکو ادارو د کارکونکو ګوښه کول رانغاړي.

د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په پای کې، دې مرکز ۱۶ اخطارېې صادر، ۱۹ د فعالیت جوازونه یې ځنډولي او په ټول هېواد کې یې د پولي خدمتونو او صرافیو ۱۸ جوازونه لغوه کړي دي.

د رپوټ ورکوونکو موسسو د فعالیت جوازونه د خطر د درجې لکه د پیسو وینځلو/ ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې خطر د کچې او د مقرراتي سرغړونو د لاملونو په پام کې نیولو سره لغوه او ځنډول کېږي. څرنګه چې په لاندې جدول کې تصریح شوي دي، د ۲۰۲۱ زیږدیر کال په پرتله په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې د لغوه شوو جوازونو کچه ۴۸.۶۴ سلنې ته راټیټ شوی. همدا ډول، د همدې مودې په اوږدو کې د ځنډول شوو جوازونو کچه ۴۴.۱۸ سلنې ته کموالی ښکاره کوي.

د فعالیت جوازونو د ځنډېدو یا لغوه کېدو د کمېدو لامل د اړوندو مؤسسو لخوا د قوانینو او مقرراتو ښه پلي کول ګڼل کېږي. رپوټ ورکونکو ادارو، فینټراکا ته د رپوټ ورکولو لپاره اړینو مهارتونه ته وده ورکړې ترڅو په چټکۍ سره فنټراکا ته رپوټ ورکړی، چې په پایله کې اداري سرغړونې چې د غلط رپوټ ورکولو سره تړاو لري، کمې شوې دي.

| لغوه/ځنډول شوي جوازونه | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ | ۲۰۲۱ | ۲۰۲۲ | د سلنې بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ځنډول شوي جوازونه | ۸ | ۲۱ | ۷۱ | ۴۳ | ۱۹ | -۴۴.۱۸٪ |
| لغوه شوي جوازونه | ۱۷ | ۴۷ | ۱۳ | ۳۷ | ۱۸ | -۴۸.۶۴٪ |

مالي جریمې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د فرمان په اساس ځنډېدلې دي او اړوندې ادارې یې په بدیل باندې کار کوي.

## څارنیزو ادارو ته د خبرتیاوو لیږل

په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې، فنټراکا د ساحې دننه څارنې د اړتیا او د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مخه نیوونکو اقداماتو او مسئولیتونو د مقررې پر بنسټ د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې لوی آمریت ته ټولټال درې خبرتیاوې لیږلي دي.

## کنګلول

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون پر بنسټ، فنټراکا واک لري څو بانکي حسابونه د یوې ټاکلې مودې لپاره کنګل کړي. فنټراکا د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې، ۱۹ شرکتي او انفرادي بانکي حسابونه د قانون پلي کوونکو ادارو (د استخباراتو لوی ریاست او د کورنیو چارو وزارت) د غوښتنو پر بنسټ کنګل کړي دي. په یادو حسابونه کې د ټولیزه کنګل شوو پیسو کچه ۳,۹۸۰,۶۷۵ افغانۍ او ۵,۴۴۰ امریکايي ډالرو ته رسیږي. یادې پیسې د درغلۍ او بډو په تور کنګل شوي دي.

له فنټراکا سربیره، نورو ادارو لکه د افغانستان بانک، د مالیې وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوی ریاست هم ښايي تنفیذي اقدامات ترسره کړي وي  چې دلته ترې یادونه نه ده شوې.

لاندې جدول له ۲۰۱۸ کال څخه تر ۲۰۲۲ کاله پورې د کنګل شوو بانکي حسابونو پرتلیزه شننه ښکاره کوي:

| کال | کنګل شوي حسابونه | کنګل شوې پیسې | |
|---|---|---|---|
| | | افغانۍ | امریکايي ډالر |
| ۲۰۱۸ | ۲۹ | ۳۳۶,۸۱۸ | ۵,۲۷۹ |
| ۲۰۱۹ | ۳۵ | ۵۱,۵۵۲,۲۷۹ | ۲,٤٦٦,۹۸٤ |
| ۲۰۲۰ | ۸۶ | ۱,۹۲۱,۳۵۱ | ۱۲۰,۹۹۷ |
| ۲۰۲۱ | ۱۲۷ | ۳٤,۹۱۳,۱۹۷ | ۱,۳۱۱,۳۸۱ |
| ۲۰۲۲ | ۱۹ | ۳,۹۸۰,٦۷۵ | ٥,٤٤٠ |
| **ټولټال** | **۲۹۶** | **۹۲,۷۰٤,۳۲۰** | **۳,۹۱۰,۰۸۱** |

## د ملي خطرونو ارزونه

فنټراکا د خپل واک تر بریده د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل د ملي خطرونو د ارزونې د عمل پلان په ارزونې او پلي کولو باندی کار کړی دی. د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې د دې بهیر د بیا پیلېدو په اړه لومړنۍ خبرې شوې دي. دا مرکز ژمن دی چې موضوع د اړوندو چارواکو په همغږۍ سره تعقیب کړي.

## د همغږۍ عالي کمېسیون

فنټراکا د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون او د مالی اقداماتو  د کاری ډلې (FATF) د سپارښتنو پر بنسټ، په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې د همغږۍ عالي کمېسیون ۶ مه غونډه جوړه کړه. دا غونډه د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او نورو اصلي جرمونو پر وړاندې د مبارزې لپاره د ګډو هڅو د پیاوړتیا او په هېواد کې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې رژیم د اغېزمنتیا د زیاتیدو او پلي کېدو په موخه جوړه شوې.

## د همغږۍ عالي کمېسیون کاري کمیټه

د پیسو وینځلو او ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره د همغږۍ عالي کمیسیون کاری کمیټي خپله دوهمه غونډه د پیسو وینځلو او د جرمو څخه د را پیدا شوی عوایدو د قانون په رڼا کې ترسره کړه.

د دې غونډې موخه د پیسو وینځلو او له جرمو څخه د راپیدا شوو عوایدو دمخنیوي قانون په ښه ډول پلي کول، د اړوندو ادارو د هڅو همغږي کول، د پیسو وینځلو او د ترهګري د تمویل پر وړاندې د مبارزې د همغږۍ عالي کمېسیون د پریکړو پلي کول او په هېواد که د پیسو وینځلو او د ترهګرو د تمویل پر وړاندې د مبارزې د رژیم د پلي کولو په تړاو د دولتي ادارو ترمنځ اغېزناکه همغږۍ را منځته کول دي.

## د ظرفیت لوړونې پروګرامونه

فنټراکا د قانون پلي کوونکو ادارو او د افغانستان بانک کارکوونکو ته ۷ ښوونیز پروګرامونه وړاندې کړي دي. دا ښوونیز پروګرامونه د فنټراکا پېژندنه، د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د تګلارو څرنګوالی او د ملګرو ملتونو د بندیزونو د لیست پلي کول تر پوښښ لاندې نیسي.

تیلیفون : +٩٣ ٢٠٢١٠٦١٥٤
برېښنا لیک : info@fintraca.gov.af
ویب پاڼه : www.fintraca.gov.af